انجنير سلطان جان کليوال ۲۰۱٦/۰٦/۲۳

# د افغانستان په هکله د آزادۍ د خونې

(Freedom House)

## ژباړن او لنډونکی: انجنير سلطان جان کليوال

## د راپور ژباړه او لنډيز

دوهمه برخه او پای

### د ۲۰۱۵ کال خپرونه:

#### دوم ـ مــــدني آزادي:

د ـ د بيان او عـقيدې آزادي:ـ په افغانستان کی د رسنيو کارکونکی زيار کاږی، د خپلې تولنې تولې نيمگړ تيا وی او برياوی خپلو وطنوالو او نړيوالو ته په بيلو بيلو بنو په مفصله توگه ور ورسوي، خو د رسنيو يا ميډيا کارکونکی هم د دولتي لوړ پوړو چارواکو او هم د وسله والو مخاليفينو له لوری د سختو تهديدونو، بندی کيدنو او حتی د مرگ ژوبلي سره مخا مخ دي، دوی نه شي کولای چی د خپلي تولني په اصلی وضعيت باندی وطنوال او دنياوال خبر کړای شی. سره له دی چی د (۲۰۰۷) د رسنيو په قانون کی په دی تاکيد شويدی چی د دولتي چارواکو مداخله د رسنيو په کار کی بی له ضرورته جواز نه لری، ولی بيا هم گڼ شمير ژورنالستان او د ميډيا کارکونکی د زور واکو،سياسيونو او نظامی چارواکو په امر بنديان شوی، تهديد شوی او وهل شويدي. يواځی په (۲۰۱۴) کال کی پنځه افغانانو او دوه تنو خارجي ژورنالستانو يا د مستقيم هدف په توگه او يا هم د عادی قربانيانو په څير خپل ژوند له لاسه ورکړيدی. (ترننه پوری د تلفاتو داشميره له سلگونو نه هم لوړه شويده. ژباړن) د ملکی خلکو د مرگ ژوبلي شميره د (۲۰۰۱) کال څخه را په ديخوا چی د طالبانو رژيم را پرځيدلی دی، د تيرو تولو کلونو په انډول په (۲۰۱۴) کی لوړه وه. د رسنيو کارکونکی د هيواد په مرکز کابل کی نسبت ولاياتو ته او د ولاياتو په مرکزونو کی نسبت ولسواليو او د ولسواليو په مرکزونوکی نسبت کلو او باندو ته زياته آزادی لری، خو په ځينو ځايونو کی زورواکان او جنگسالاران، ژورنالستانو ته د دی اجازه نه ورکوی چی داسی راپورتهيه کړی چي په هغه کی د دوی د تيريو او غير قانوني اعمالو زکر شوی وی. همدا اوس گڼ شمير تلويزيونی شبکي، راديو ئی خپروني او ورځپاڼي د افغانستان په بيلو بيلو برخو کی په کار بوختي دی او په پراخه پيمانه د دولتي ادارو د کارکونکو او د زورواکانو په چال چلند باندی د خلکو انتقادی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

نظریات خپروي، خو دوی بیا دا خپرونی او هغه تبلیغات چی د دوی پرضد وی د اسلامي اصولو او ملی ارزښتونو په ضد بولی او په هره وسیله چی وکولی شی ددی رسنیو د خپرونو په کار کی خنډونه پیداکوي.

د موبائل ډیري ټیلفوي شبکی را منځ ته شوی او په تیزی سره یی انټر نیټی خدماتو ته لار پیداکړه، د ښاری خلکو د پاره یی د پراخو معلوماتو د حاصولو د پاره زمینه برابره کړه. طالبانو دد ی د پاره چی د دوی د موقعیت په هکله څوک دولتي ځواکونو ته خبر ورنه کړلی شي، د موبائل ټیلفونونو د امواجو د رسولو په انتقالی ستنو (پایو) باندی حملي وکړی او د خلکو تر منځ د اړیکو په نیولو کی یی ستونزی رامنځ ته کړی. د فبروری په میاشت کی د جمهوری ریاست د پاره د کاندیدانو تر منځ د مباحثو جریان خلکو ته د تلویزیونی شبکو، رادیو او اخبارونو له لاری ور ورسیده.

د طالبانو تر سقوط وروسته په مذهبی آزادیو کی تر یوه حده ښه والي راغلي دي، خو سره له دی هم د نورو مذاهبو پیروان چی په افغانستان کی د مسلمانانوپه نسبت ډیر کم دی، د سخت دریځه مسلمانانو له خوا د ازیت، آزار او کله ناکله د مذهبی مراسمو د سرته رسولو په وخت کی د خنډ او مانع سره مخامخ شویدی. ددی هیواد په اساسي قانون کی یوائي اسلام د رسمي مذهب په توگه قبول شویدی. وسله والي مخالفي ډلي هغه دینی عالمان چی د مدني حقوقو ملاتړ کوی هدف نیسي اوله منځه یی وړی، که څه هم د نورو مذهبو پیروانو ته د مذهبی مراسمو اجازه ورکړ شویده، خو سره له دی هم هندوان، سیکان او د لږه کی شعیه مذهب ډیر کرت د سُني اکثریت مذهب د پیروانو له خوا د ازیت او تعصب سره مخامخ شویدی.

د دین نه گرځیدل(الحاد) او د دینی مقدساتو بی احترامي کفر بللي شي او مرتکب ته یی سخته سزا ورکول کیږی.

د اسلام د اصولو له مخي د پوهی حاصلول په هر ځای کی چی وی جواز لری، خو یاغیان په ټولو هغه ښونځیو او تعلیمي تاسیساتو باندی چی دولت او یا د بهرنیو هیوادونو په مرسته جوړشویدی حملي کوی او هغه له منځه وړی. د مثال په توگه د (۲۰۱۴) کال د نومبر په میاشت کی د یوه راپور له مخي یوائي (۲۰۰۰۰) ماشومان ښونځیو ته له تللو نه محروم شول، هغه ماشومان چی د ښونځیو د تللو امکانات ورته برابر هم ول. تعلیمی سویه یی ډیره ټیټه وه. دټول مشرقي ولایاتو څخه ډیر محدود شاگردان د لوړو تعلیماتو د پاره پوهنتون ته د کانکور په آزموینه کی بریالي شول. په هغو سیمو کی د تعلیمي مؤسساتو حالات ډیر د اندیښني وړدی چی هره شیبه د وسله والو مخالیفینو او د دولت تر منځ یی د کنترول د پاره جگړه او مبارزه روانه وي. په مجموع کی ویل کیدای شی د بیان او عقیدی آزادی په دی هیواد کی ډیره نامکمله ده او د نړیٔ د ډیرو ناکامو هیوادونو په ډله کی شمیرل کیږي.

هـ ـ د غـونـډو او ټولـنو د جـوړیـدو حقوق : ـ

د افغانستان ټول قوانین د ځینو خاصو شرایطو لاندی د غونډو او ټولنو د جوړیدو ملاتړ کوی او امنیت یی تضمینوي. دا حالات په ټول هیواد کی یو ډول نه دی او په یوه سیمه کی د بلی سیمی سره پکی ډیر توپیرونه موجود دي. په ځینو سیمو کی سمه ایز چارواکی د هر ډول غونډو د جوړیدو مخنیوئ کوی اوکه ضرورت شی له دولتي پولیسو بر سیره د خپلو شخصی قوتونو نه هم کار اخلی او د داسی غونډو د جوړیدو مخه نیسی چی د دی چارواکو په نقصان را منځ ته شوی وی.

په افغانستان کی په رسمی توگه (۲۸۷) غیر دولتی خارجي او (۱۹۱۱) کورني مؤسسات او د دی تر څنگ (۴۰۰۰) نور غیر راجستر شوی مؤسسی په کار بوختي دی. دا مؤسسي د چارواکو له خوا د کار کولو څخه په رسمی ډول نه منع کیږی، خو که د چارواکو د غوښتنو سره برابر کار ونه کړی بیایی د کار مخه نیوله کیږي. برسیره پردی د ا

مؤسسي هره شیبه د دولت د وسله والو مخالفو ډلو د تهدید او فشار لاندی دی، خصوصاً هغه مؤسساتو ته د یاغانو له خوا ډیر خطر متوجه دی چی د بشري او مدني حقوقو او ازادیو د تامین د پاره کار کوی.
د تاسف خبره ده چی لا تر اوسه هم په دی هیواد کی د کارګرانو او روزمزدانو قانوني حقوق په سمه توګه نه دی تعریف شوی او داسی کومه قانوني مرجع هم وجود نه لری چی د دوی د حقوقو د پاره مبارزه او قانوني جګړه وکړی، نو له همدی کبله داهیواد په دی برخه کی ډیر پاتي راغلي او په ناوړه شرایطو کی قرار لری.
و ـ د قوانینو او مقـراتو تـطبیق: ـ د هیواد قضائی سیستم په تصادفی توګه کار کوی، په ډیرو ځایونو کی د قضآء چاری د هغو اشخاصو له خوا پر مخ بیولي کیږی چی په کافی اندازه مسلکي زده کړی یی نه دي کړي او د شرعی احکامو او مدني قوانینو سره کمه اشنائی لری. ستره محکمه د هغو مذهبي علماو څخه جوړه شویده چی د مدني قوانینو د سیستم سره پوره بلدیت نه لری او ژورو اصلاحاتو ته اړتیا لری.
په قضائی سیستم کی د فساد لوړی کچي تل قاضیان او څارنوالان د محلي زور واکانو او وسله والو ډلو د تهدید او کنترول لاندی ساتلي دي. په اطرافي او محلي ساحو کی د قضاوت سلسله هماغه عنعنوي بڼه لری. جمهور ریس اشرف غنی د قضائی اصلاحاتو د پاره د اقدام وعده ورکړه او هغه یی د خپلو اصلاحي پرګرامونو په لست کی داخل کړ. د همدی پرګرام د تطبیق د پاره یی د اکتوبر په میاشت کی (۲۰۰) قاضیان او (۶۰۰) تنه د محکمو نور کار مندان دفساد له کبله د خپلو دندو نه ګوښه کړل.
په هغو کلیوالی ساحو کی چی طالبان تسلط لری هغوی خپلی محکمي جوړی کړیدي او په خپل سیستم پکی خلک محاکمه کوي. عدلي تعقیب او په محکمو کی فیصلي د ډیرو نیمګړ تیاو له کبله په سمه توګه نه تر سره کیږی، لکه د تورنو کسانو د حقوقو د دفاع د پاره د قانونی وکیل نشتوالی، د واقعیاتو د صحت د پاره د عینی شاهدانو نشتوالی، د عدالت د تامین د پاره د باوری قضائی مرکزنو نشتوالی، د یو اړخیزو او ظالمانو فیصلو کړنه او د محاکمو د فیصلو د ثبت نشتوالی، ټول هغه عوامل دی چی د تورنو کسانو مدني حقوق د پښو لاندی کوی او د هیواد قضائی سیستم د پوښتني لاندی راولی.
پولیس او نور امنیتی اورګانونه خصواً هغه چی د دفاع په منظور په لومړیو کرښو کی ځای پرځای شویدی، د هغو یاغیانو سره چی د جګړي پر مهال نیول شویدی، د جګړی د اسیرانو په توګه نه بلکی په خپلو مرکزونو کی د ټولو قوانینو خلاف عمل کوی او د هیڅ ډول شکنجي نه ډه ډه نه کوی. برسیره پردی د قضائی سیستم په څیر د پولیسو اداره هم په کلی توګه د فساد نه ډکه ده او په عوامو خلکو باندی ظلم او تیری کول د پولیسو، د جاسوسی د سازمانونو اونظامیانو ورځني دنده ده.ګڼ شمیر دولتي مقتدر او لوړ پوړي چارواکی شخصی زندانونه او شکنجه ځایونه لری.
په (۲۰۱۴) کال کی د ملګرو ملتو اداري راپور ورکړ چی د دی کال په اوږدو کی (۳۵۴۵) تنه ملکی وګړی تلف شوی او (۷۴۵۰) تنه نور زخمیان شویدي. د دی تلفاتو لویه برخه د طالبانو او نورو یاغی وسله والو کار دی خو (۱۷٪) دا مرګ ژوبله د دولت د امنیتی قواو له خوا را منځ ته شویده.
په (۲۰۱۵) کال کی د طالبانو له خوا د کندوز د مرکز نیول، د ننګرهار ولایت کی د داعشیانو له خوا د شینوارو د لوی ولسوالیو د ځینو سیمو اشغال او د هیلمند په ولایت کی د ځینو ولسوالیو تر کنترول لاندی را وستل او د یاغیانو له خوا د دی سیمو ملکی خلکو ته د مرګ ژوبلی او رسیدلو تاوانونو کچه، په دی هیواد کی د بشري قوانینو نه د سر غړونی لوی مثالونه دی.

د هیواد په ټولو برخو کی د انسانانو تښتول او برمته کول او بیا د پیسو په مقابل کی د هغوی آزادیدل او یا هم د پیسو د نه ورکولو په صورت کی د تښتول شوو کسان بی رحمانه وژل، په تیرو نهو لسو کلونو کی د هری ورځی لوبه ده. که خبره را لنډه شی نو په اطمنان سره داسی حکم کیدای شی چی په دی هیواد کی داسی کوم قوی مرکز وجود نه لری چی د قوانینو په تطبیق کی خلکو ته مرستي ورسولئ شي.

و ـ شخصي آزادي او انفرادي حقوق:ـ د افغانستان د دولت له خوا په هیواد کی دننه او له هیواده بهرپه سفر کولو او تلو راتلو کوم قانوني بندیز نه دی لګول شوی، خو د امنیت نشتوالی په دی برخه کی زیاتي ستونزي را منځ ته کړیدی.

یا د ملګروملتو د مهاجرو د چارو اداره خبر ورکوی چی په (۲۰۱۵) کال کی (UNHCR)

په افغانستان کی په کور دننه (۱٫۲) میلیونه وګړی له خپلو کورونو نه بی ځایه شوی ول، چی په دی جمله کی (۳۸۴۰۰۰) هغه کسان دی چی د جنګونو له کبله بی خایه شویدی. همدارنګه په زرګونو تنه نور د ناسالمو حالاتو نه د تیښتي په منظور اروپای هیوادونو ته په غیر قانوني توګه د تللو هڅي کړی او کوی یی. د یادی شوی اداری د احصایی له مخی په (۲۰۱۵) کال کی په ټوله نړۍ کی د راجستر شوو افغان مهاجرو شمیر (۲،۶) میلیونه تنه ښول شویدی او په همدی کال کی اروپایی هیوادونو ته د غیر قانوني لارو څخه د تلونکو شمیر، د سوریی له هیواد وروسته په دویمه شمیره کی راځي.

په افغانستان کی د هیواد اتباع د قانون له مخي د دی اختیار لری چی خپل ملکیت و پلوری(خرڅ کړی) او د بل شخص ملکیت و پیري (را ویی نیسي یا وایی وا خلي)، تجارت وکړی، د سوداګرۍ مرکزونه پرانزي او په آزاده توګه نوره راکړه ورکړه تر سره کړی، خو کوم څه چی په دی هیواد کی ډیر عمومیت لری هغه دادی چي دا معامله کونکی په مجموع کی دولتي مالیه (ټکس) نه ورکوی، دولت د اقتصادئ پالیسیو له مخی مکلف دی چی د شخصی پانګي اچوني نه حمایت او ساتنه وکړی، خو د لوړ اداري فساد او لوړو چارواکو د لاس وهنو له امله نه افغان پانګه وال او نه بهرني پانګه وال دي ته زړه ښه کوی چی په دی هیواد کی پانګه اچونه وکړی.

په تیره یوه نیمه لسیزه کی د افغانانو ته د ژوند د ښه والي د پاره ښه زمیني برابری شوی وی، چی د پانګی اچونی له لاری په هیواد کی د تولیداتو اندازه لوړه کړی او خلکو ته هم مصروفیت پیداشی، خو په هر کار کی فساد، واسطه چلیدل، د مخدره موادو تولید او قاچاق، شخصی، ګروپي، او قومی دښمني او بدبیني، تهدید، تجاوز، شخصی جریمی او محصول لګونه ټول هغه څیزونه ول چی په دی هیواد کی یی د پانګي اچوني، تولید او سوداګری په لاره کی خنډونه جوړ کړیدی او د سوداګرۍ فضائی نا مناسبه ګرځولي ده.

ښځي په قانوني توګه ددی حق لری چی زده کړه وکړی او په ټولنیزو چارو کی ونډه واخلی، خو له بده مرغه د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالي اندازه په ځینو سیمو کی دومره لوړه ده چی د خپلي کورنۍ د نارینه مشر(واکدار) له رضایت پرته حتی د کور نه د وتلو اجازه هم نه لری. په ښځو باندی د هیواد په ځینو سیمو کی رواجی فشارونه دومره لوړ حد ته رسیدلي دی چی د هیڅ ډول تیری او تجاوز په هکله هیڅ قانوني مرجع ته خبر هم نه ورکول کیږي. د قانون له مخي په دی هیواد کی د واده دپاره د ښځي عمر (۱۶) کاله تعیین شویدی، خو د نیم نه زیاتي نجوني دی عمر ته تر رسیدو د مخه په جبري توګه ودیږی. د نکاح او طلاق حقوق یوائی نارینه لری. په یو وخت کی د څومیرمنو لرل د شرعی جواز له مخي (بی له دی چی شرایط یی تر سره کړلي شي. ژباړن) ممانعت نه لری. په ښاري او کلیوالي ساحو کی د ښځو د ژوندانه په طرز کی ډیر تفاوت موجود دی، په ښاری ژوندانه کی ښځو ته د تعلیم کولو او په ټولو

سیاسی ـ اجتماعی او اقتصادی چارو کی د ګډون او برخي اخستني زمینه مساعده ده، خو په کلیو او باڼدو کی د ښځو ژوند په نارینه پوری تړلي دی او د ښځي حیثیت د یوه ( شي ) او مال څخه لوړ نه دی. په ښاری برخو کی د طالبانو د سقوط نه وروسته ښځو ته تقریباً د نارینه و سره برابر د کار کولو او نورو مدنی حقونو نه د ګټی اخستني زمینه را منځ ته شوه. د (۲۰۱۰) کال په پارلماني ټاکنو کی (۱۶) سلنه ښځي کاندیداني وی ، تقریباً (۴۱) سلنه ښځینه رای ورکونکي راجستر شوی وی، (۶۹) ښځي په پارلمان کی د وکیلانو په توګه و ټاکلی شوی. که څه هم د (۲۰۱۴) د جمهوری ریاست د څوکی نیولو د پاره ښځینه کاندیده نه وه موجوده، ځوځینو کاندیدانو ښځي د جمهوری ریاست د معاونینو په توګه د ځان سره نومولي وي. د ولایاتی ټاکنو د پاره په (۲۰۱۴) کال کی (۲۷۳) ښځینه نوماندانی موجودی وی چی له دی جملي څخه (۹۷) ښځو بریالیتوب تر لاسه کړ، خو سره له ده هم د مخالیفینو د سختو تهدیدونو له امله په انتخاباتي حوزو کی د ښځوشمیره ناځیزه وه.

د انسان تبنتوني او یرغمل نیوني ډیر قربانیان په افغانستان کی ماشومان دی. ګڼ شمیر ماشومان په سختو شاقه کارونو بوخت دی او زیاته برخه یی د جنسي تجاوزونو لاندی راځی. په ښارونو کی د فقر او مجبوری له کبله او په اطرافو کی د امنیت د نشتوالی له امله په دی هیواد کی میلیونونه ماشومان د زده کړی څخه بی برخي دي.

نتیجه:- د افغانستان هیواد په دري محوروونو (اوږدوالی، لندوالی او پلنوالی) کی د نامناسبو شرایطو له امله د نړی د (۱۹۵) هیوادونو په منځ کی (۱۹۲) یا له ښکته نه پورته لوری ته ، په اوسط ډول د (۶) نمرو په درلودلو سره دریم ځای لری. د ژوندانه ډیر ناوړه حالت له دی امله د دی هیواد د خلکو په برخه شویدی چی په دی هیواد کی د قانون نه سرغړونه، زورچلیدنه، د هر څه په وړاندی بی پروایی او بی توجهی له یوی خوا او د دی هیواد له جغرافیی نه د ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو سیالیو ډګر جوړیدنه، له بلی خوا د کنترول نه وتلی دی، او دا هیواد یی د ټولنیز ژوندانه په ټولو اړخونو کی د ماتي او نیمګړتیاو سره مخامخ کړیدی. وګورو چی په راتلونکی کی به دا حالات کومی لوری ته واوړي.

لمړی برخه:

[http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kliwal_S/soltan_kliwal_de_afghanistan_de_aazaadi_khoney_١.pdf](http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kliwal_S/soltan_kliwal_de_afghanistan_de_aazaadi_khoney_١.pdf)

**پای**